# Pakhtunkhwa " پښتونخوا "

دوېیمه ګڼه اپریل 1988

د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند خپرونه

PASCHTUNCHWA / PASHTOONKHWA

ORGAN DER SOZIALDEMOKRATISHEN PARTEI DER PASCHTUNEN

ORGAN OF THE PASHTOON SOCIAL DEMOCRATIC PARTY (PSDP)

www.pashtoonkhwa.com



# فخر افغان



(۱۸۹۰ - ۱۹۸۸ع)


خپرونکی: د پښتنو سوسیال دیموکرات ګوند
پښتونخوا / افغانستان

HERAUSGEBER : SOZIALDEMOKRATISCHE PARTEI DER PASCHTUNEN
PASCHTUNCHWA / AFGHANISTAN

PUBLISHER : PASHTOONS SOCIAL DEMOCRATIC PARTY
PASHTOONKHWA / AFGHANISTAN



زمه وار :
V. I. S. P. :
RESPONSSIBLE FOR CONTENTS :

دوکتور کبیر ستوری
DR. KABIR STORI
HÖNINGER WEG 63
5000 KÖLN 51
WEST GERMANY
TEL. (0221) 3602472



د خپرونې جرګه
REDAKTION
EDITORS BOARD

علیخان محسود ALI KHAN MAHSOOD
هدایت بنګش HIDAYAT BANGASH
حبیب ستومان HABIB STOMAN
خان سابی KHAN SAPI
شاجهان SHAHJAHAN


## سرلیکونه


| سرلیک | لیکوال | مخ |
|---|---|---|
| باچاخان دپښتنو دملی ازادی - پښتونولی غورځنګ پلار . | ستوری | ۱ |
| عدم تشدد دیا پاسیفیزم او ملی - ازادی غوښتونکی غورځنګونه . | ګردیوال | ۱۱ |
| دپښتو ټولنه او باچاخان | علي خان | 10 |
| کابل رژیم او دهغی د خپرولو - اغیزو ته یوه لنډه کتنه | شاجهان | ۲۰ |
| مطبوعاتی کانفرانس | خبریال همایون | ۲۷ |
| بلنه «شعر» | ځاپی | ۳۴ |

لیکوالکی: ستوری

# باچاخان

## د پښتنو د قامي آزادۍ بخښوونکي غورځنګ پلار

مخکښې لږ څه چه د پښتنو قامي آزادي بخښوونکي غورځنګ ته ځغلنده کتنه وکړو . لېسار ده چه ووایو چې د پرمختلونکو هیوادونو قامي آزادي بخښوونکي غورځنګونه د اروپا د قامي غورځنګونو د تاریخ د اصولو په بنسټ روښانه کیدای نه شي . ځکه چې په اروپا کښې قامي غورځنګونه د بورژوازۍ په غیږه کښې لوی شوي . او د پیسو داګري او ضایعو پواسطه غښتلي شویدي چه ښکیلاکي (استعماري) او ځپناک (استثماري ، استحصالي) بڼه ئې لرله (۱) . خو د پرمختلونکو هیوادونو قامي غورځنګونه د ښکیلاک (استعمار) په لمري کښې د ښکیلاکګرو (استعمارچیانو) په ضد منځ ته راغلي دي او لدې کبله ضدي امپریالستي ، او ښتوني (انقلابي) او آزادي بخښوونکي خوی لري .

دَ پښتونو تاریخ کې دَ ځنګونو هم پېدا له ګلنې راځي.

کله چې دَ پښتونخوا لوی تاریخ ته کتل وشي چې ورو لوی به ویجې چې پېدا
خاوره کې وړی تبار آزادی غوښتونکي غورځنګونه منځ ته راغلي دي.

(۱) د مغلو پمقابل ګلنې د خوشحال خان بابا (۱۶۲۳ - ۱۷۲۱ ع)
په مشرۍ په ۱۶۹۹ ع کال ګلنې (۲)

(۲) دا ایرانیانو پمقابل ګلنې د میرویس نیکه په مشرۍ په ۱۷۰۹ ع
کال ګلنې تبار آزادی غوښتونکي غورځنګ چې د خپل تبار دولت
بنسټ ئې کېښود چې پاستون (پایتخت) ئې قندهار و.
او د قندهار په نامه یادیده چې وروسته بیا د احمد شاه بابا
(۱۷۲۲ - ۱۷۷۳ ع) له خوا په ۱۷۴۷ ع کال ګلنې دَ افغانستان
په نامه ولوموړل شو (۳).

(۳) دَ پیرنګیانو (انګریزانو) پمقابل ګلنې د غفار خان . باچاخان
فخری افغان په مشرۍ . ودی مقابل پوله پېدا ی آخرنی تبار آزادی
غوښتونکي غورځنګ تشکله ده . خو ځنګه چې د دغه غورځنګ
پمټرل اوږه خونه په یوه کوچنی مقاله ګلنې رانغښتل کیدی نه
شی لنو ځکه ئې یوازې دَ تنظیمی (سازمانی) اړخ غټ ټکی
په ګوته کیږی.

باچاخان پخپله لیکلي چې " زه د هشتنغر په

په اتمانزو نومي کلي په کال ۱۸۹۰ ع کښې پيدا شوی يم
هغه وخت د پيدايښت د نيټې د ليکلو رواج نه و او نه
څوک په ليک اولوست پوهيدل. نو ځما د پيدا کيدو
نيټه چا ليکلې نه وه. خو دا چې زه وايم چه په کال ۱۸۹۰ ع
کښې پيدا شوی يم دا د دې نه وايم چه خدای دې ځما مور وبخښي
ماته ويل چې ستا د ورور ډاکټر خان صاحب واده چې و ته
د يوولسو کالو وې او د ډاکټر صاحب واده په دسمبر ۱۹۰۱ ع
کښې شوی و نو ځکه زه وايمه چه زه په ۱۸۹۰ ع کښې پيدا
شوی يم" (۴)

باچاخان د انګريزي ښکيلاک (استعمار) د جنګ
څخه د خلاصيدلو د پاره په پښتنو کښې د ذهني او منښتون (انقلاب)
پيل په ۱۹۲۱ ع کال په اتمانزو کښې د يوه آزاد لوړ ښوونځي
(هائي سکول) په جوړولو سره وکړ. دَ دې پيکلي چه دوه ځنګه
چې دا کار د يوه سړي د لاسه پوره نه و نو مو يو جمعيت انجمن
اصلاح الافاغنه په نامه جوړ کړ. دې انجمن دوه مهم کارونه
درلودل يو دا چې په پښتنو کښې د زده کړې او علم شوق
پيدا کړي. او بل دا چه دَ پښتنو له منځه بد رواجونه
ورک کړي. نو ځکه مو په کلو او بانډو کښې دوره شروع کړې" (۵)

دَ باچا خان دې کار انګرېزان سخت په تشوېش کښې کړه او
دې ئې د دې کاله په ۱۹۲۱ د ډسمبر د میاشتې په ۱۷ نېټه
(په دفعه ۴۰ سرحدي) سخت بندي کړ. او د اپدې غرض
و چې ګوندې انجمن اصلاح افغانه د منځه لاړه شي. خو د انجمن
اصلاح افغانه فعالیت لا ډېر سی پراخه شو. او په ۱۹۲۳
کال کښې باچا خان ته قوم د فخر افغان لقب ورکړه.

د ۱۹۲۸ کال د مئې په میاشت کښې باچا خان د پښتون
رساله جاري کړه او په ۱۹۲۹ کال کښې د سرو پوځو غورځنګ
(دَ خدائي خدمتګارانو) بنسټ کېښودو. په دغه
وخت کښې د هند نیمه وچه کښې د مسلم لیګ په نامه او د
کانګرس په نامه غورځنګونه موجود وو. د مسلم لیګ غورځنګ
پېرنګیانو د کانګرس په ضد پیدا کړې و چې د انګرېزانو سره
په جګړه بوخت وو نو ځکه باچا خان کانګرس ته لاس ورکړه او
پېرانګیان د هند د نیمې وچې څخه وېستلو ته مجبور کړل.

د ۱۹۳۰ کال د اپریل د میاشتې په ۲۳ نېټه د پېښاور
په قصه خانه کښې دَ خدائي خدمتګارانو په غونډه باندې پېرنګیانو
ډزې وکړې او باچا خان بیا بندي شو. د باچا خان د بند
ټوله موده ۳۷ کلونو ته رسیږي. نو ځکه ویل کیږي چې

د باچاخان اصل پته ( درک ) جیل و ـ

دومره چې د پېرنګیانو ناوړه زیاتی نه پاتیده ـ هغومره به سوړه پرخو غورځنګ پراخیده ـ هر څوک چه به دی غورځنګ ته شاملیدل نو دا شرطونه به ئې کوله ـ

(۱) زه د خدائ حاظر او ناظر ګڼم او د خدائ سره دا وعده کوم چه زه به خدائ خدمتګار یم ـ

(۲) څنګه چه خدای ته د خدمت ضرورت نشته دی نو د هغه د مخلوق خدمت د خدای خدمت دی ـ

(۳) تشدد به نه کوم ـ ځکه چې تشدد د نفرت پیدا کوی او عدم تشدد محبت او د تشدد د لاسه د پښتنو کورونه ویران دی ولی چه د پښتون تشدد همیشه د خپل ورور سره وی ـ

(۴) پیری، جنبې، تربګنی او دښمنی به د خپل پښتون ورور سره نه کوم ـ

(۵) که پښتون ورور بد را سره وکړی. د هغه نه بدله نه اخلم

(۶) د ملک او تمام خدمت به خدای د پاره کوم ـ د خپل خدمت به عوض کښې به چا نه څه نه غواړم ـ

(۷) په بل تحریک کښې به نه شاملیږم ـ

(۸) ناجائزه رسمونه او رواجونه به پریږدم ـ

کله چه په ۱۹۴۷ کال کښې د انګریزانو له خوا پاکستان جوړ پېده. نو خدائي خدمتګارانو په بنو کښې د خان امیر محمد خان د صدارت لاندې جلسه وکړه او خپل آزاد حکومت ئې اعلان کړ.

# پښتنو د خپل آزاد حکومت فیصله اوکړه

## پښتانه نه هندوستان غواړي نه پاکستان،

د صوبې د جرګې - د اسمبلۍ د ممبرانو - د خدائي خدمتګارانو افسرانو او د "خلمي پښتون" د جرګې یو شریک اجلاس په یویشتم د جون ۱۹۴۷ء په مقام د بنوں کښ د خان امیر محمد خان د صدارت د لاندې اوشو - دے اجلاس په اتفاق سره دا فیصله اوکړه - چه په دے ملک کښ د د پښتنو (ټولو) یو آزاد حکومت جوړ شي. چه د هغے د آئین بنیاد به په اسلامی اُصولو جمهوریت. مساوات او اولسی انصاف باندِ اېښود ے شي. دا اجلاس هر پښتون ته اپیل کوی - چه د دے اعلیٰ مقصد د حاصلولو د پاره په یو مرکز باندِ راغونډ شي - او بے د پښتون نه دِ د بل چا اقتدار ته سر ټیټ نه کړي +

---

# له طرفه د صوبهٔ سرحد د لویٔ جرګے نه ۴۷

په همدغه ۱۹۴۷ کال کښې په قندهار کښې د محمد گل مومند، گل پاچا الفت او عبدالروف بینوا، په مشرۍ د باچاخان په ملاتړ د ویښ ځلمیانو په نامه د سکالانو یو غورځنګ منځ ته راغی - چې بیا وروسته پکښې د ښوو (ځیوانانو) په نومونو ډېر کسان شامل شو - چې په پای کښې په سیاسي ډلو او گوندونو وویشل شو. د دې پښتونخواه ځنې سیاسي گوندونه لکه د خلک ډیموکراټیک گوند، افغان ملت، مساوات، او شعله جاوید د همدغه غورځنګ محصول دی.

او همدغه شان په ښکته پښتونخواه کښې هم د باچاخان غورځنګ په ۱۹۵۷ع کال کښې د نیشنل عوامي پارټۍ په نامه منظم شو چې بیا وروسته ۱۹۷۵ کال کښې په نیشنل ډیموکراټیک پارټۍ (NDP) بدله شوه. او یوه برخه ئې د مزدور کسان په نامه پارټه او بله برخه ئې د نیشنل عوامي پارټي پښتونخواه په نامه پاتې شوه بیا وروسته د نیشنل ډیموکراټیک پارټۍ څخه یوه برخه د نیشنل پروگرېسیو او بله برخه د پاکستان نیشنل پارټي PNP په نام بېله شوه - وروسته بیا دغه دواړه برخې د پاکستان نیشنل پارټۍ په نامه یو ځای شوې -
۱۹۸۶ کال کښې ۲۶ جولائی د میاشتې NDP په عوامي نیشنل پارټۍ ANP بدله شوه - او د پاکستان نیشنل پارټۍ ځنې برخې، مزدور کسان

پکښې بیرته یو ځای شو ۔

د پښتنو لږو لیډرز او لسو لیډرز ګوند (پښتون سوشیال ډیموکراټیک پارټي (PSDP) هم د باچاخان د نظریو یوه تسیده محصول دی ۔ چه د عوامي نیشنل پارټي (ANP) او ویښ ځلمیانو د غورځنګ د انګیزه ډیری هم شته دی ۔



باچاخان د ۱۹۸۸ ع کال د جنورۍ په شلمه نېټه په پېښور کې وفات شو او د خپل وصیت سره سم په بره پښتونخوا کې په جلال آباد کې خاورو ته وسپارل شو - او په دې توګه د لر او بر پښتون په منځ کې لږ والی محکم شو -

باچاخان د پښتنو شپږ ونډې تاریخ دی - چې تل به شا ونډې باني وي "دا هغه اولنی پښتون دی چې هغه توري په زور نه ، هغه د سردار په حیثیت نه بلکه د پښتون په حیثیت ئې مبارزه شروع وکړه . هغه کسبګر او پېښاور و خلکو ته ملکه وروره په شان احترام وکړ او ویل چې تاسو کې کمزوري هغه دي چې کار کاوي . او خاورو ته ساوي ې او یوه نا رښتیا ئې وکړه - کړه وه سپوږمۍ وي او ګړ یو رښتیا وي سره په شریکه به وي "(۶)

# اخستونځی


①

Kleines Politisches Wörterbuch
Dietz Verlag, Berlin 1973, S. 584-585

②

سرفراز خان عقاب خټک : " خوشحالنامه "
خیرونکی د قومونو او قبائلو وزرت دولتي مطبعه کابل ۱۳۶۵ ھ

(٣)

Werner Stein: "Kulturfahrplan"
Berlin 1954, S. 858

Reisführer: "Afghanistan" Polyglott
Verlag München 1974

Mahmud, S.F.: "Geschichte des Islam"
München 1964, S. 695 ff.

(۴)

عبدالغفار: "زما ژوند او جدوجهد"، کابل دولتي مطبعه
۱۹۸۳ کال ۴ مخ لومړی

(٥)

خان عبدالغفار خان: "خدائي خدمتګاري" د پوهنې
مطبعه کابل ۱۳۴۴ ه

(۶)

خان لالا محمد افضل خان: پښتونخوا کښې اپریل ۱۹۸۷
لومړی ټوک، لومړی ګڼه

# عدم لتشدد یا پاسیفیزم

## او ملي ازادي غوښتونکي غورځنګونه

لیکوونکی : ګردیزال

کله چې د هغه په نیمه وچه کې د هغه اولس د
انګلیسي استعمار «ښکیلاک یا سامراج» او
او استثمار یا زبېښاک - د منګلو څخه ځان
خلاصولو او ملي خپلواکۍ ته ګوته کولو په خاطر
د هغه د ستر لارښود مهاتما ګاندي په مشرۍ د
د مبارزې لمن یا غوړن لپاره په کلک شکل بدرې
ووهلې - نو په دې وخت کې د هغه اولس او
په سر کې یې ستر لارښود ګاندي - د انساني
خونریزۍ ددوو ښتو او ځورونو - او د دې دواړو
او ځورونو - د غوښتنو د عملي کولو په ډګر کې
دیو تضاد سره مخامخ وو.

او هغه دا چې له یوې خوا - د اولسونو ازادي
او خپلواکي - او د دې خپلواکۍ ته ګوته کولو

په لیار کې مبارزه او قربانی - انساني مقدسات او لوړ ارزښتونه دي. او له بلې خوا دا چې د هغه دا ولس په وجود د انګریزي ښکیلاک خامار پروت وو چې د انساني فطرت په دغو لوړو ارزښتونو ئي د زور زیاتي ګذر غبرګونه خپلیه اچولې وه - دغو ارزښتونو ته يي د قدر په سترګه نه کتل او خپله استعماري لمن ئي د هغه د خاوري څخه نتش دا ولسونو د حقه حقوقو د نمو ښتو په بنیاد د دوی بې حده بې له وسله والي مبارزي څخه نه ټولوله.

د خپلو اکي نمو ښتلو او د نمدم لښند د فلسفي او سیاسي ایډیالوژي د وسله ایز دریځ تر منځ نو وسله والي مبارزي ته اړه نیا - د لتضاد د تلې وو. خو معتقد ګاندي د خپلې سیاسي پو هې او شاهکاره په بنیاد - د ملي خپلو اکۍ تر لاسه کولو په لمر کې دا وه بنو دله - چې د دې دوا ړو ارزښتونو د خونړي ساتلو لپاره - نه باید چې د یو ارزښت معنوي محتوی د بل ارزښت قرباني شي. خان عبد الغفار خان - مشهور په پاچا خان -

چې د پښتنو اولس له خوا د فخر افغان لقب ورکړ شوی دی. د هغه د ازادۍ په لیار کی د ګاندی یو غوره ملګری وُو.

خدای بخښلی پاچا خان چې لږه موده مخکی په حق ورسید. د ګاندی د مرګ نه وروسته په هندوستان کی د عدم تشدد د فلسفی او سیاسی تګ لاری یوازینی وارث وُو.

دی نه یوازی د لږی او بری پښتو نخوا بلکه د ټول افغان اولس د ستر ویاړ لوړ شخصیت وُو.

ده د پښتون اولس د تامی ازادۍ لپاره د خپلی اوږدی مودی مبارزی په ترڅ کی د سولی او امن او زور زیاتی نه د ډډې کولو سره تل په ملکه پلوی ښودلی ده.

پښتانه د خپل ستر لارښود پاچا خان په لیار ملګ ولاړ دی - او هیڅکله به دا انسانی لوړ ارزښت تر پښو لاندی نه کړی.

خو د خپلی ملی خپلواکۍ د حق نه هم تیر یدونکی نه دی. د انسانی لوړو ارزښتونو خوندی ساتل

او ترې د فاتح کول - د نړۍ د ټولو سوله خوښوونکو
اولسونو ګډه دنده ده .

ځکه نو په کار دی - چې د نړۍ د ټول سوله خوښوونکي
اولسونه د پښتنو د ملي حق یعنې ملي خپلواکۍ د
سره په کلکه ټینګه او ملاتړ وه کړي - د دې لپاره
چې دې ته اړتیا پیدا نه شي - چې زور زیاتي او
وسله والې مبارزې څخه کار واخستل شي .

• وه دې شي چې پښتانه د خپلې ملي خپلواکۍ د
ترلاسه کولو په لیار کې وسله والې مبارزې ته
اړ نه کړې شي .

• پښتانه د نړۍ د سوله خوښوونکو تامولو
په کتارونو کې - خپل ملي حق - ملي خپلواکۍ د
غواړي - نه د دې نه ډېر او نه د دې نه لږ .

— ژوندي دې وي ملي ازادۍ غوښتونکي
غورځنګونه .

— تل دې وي د سوله خوښوونکو اولسونو ترمنځ
کلک پیوستون .

«لیکوونکی علی خان»

# د پښتو لیکوالنه او باچاخان

خان عبدالغفار خان مشهور په باچاخان چې د افغان روش له خوا فخر افغان لقب ورکړه شوی دی په 1890 ووم عیسوی کال په اوتمانزئي کې زیږیدلی دی



«علی خان د باچاخان سره»

ځکه چې په پښتونو کې د زیږیدو نیټي لیکل د ومره مروج نه وی لو د د نیټه هم تخمینی نیټه ده.

کیدی شی چې اصل نیټه کال نیم لوړه او یا ټیټه وی.

باچاخان هغه وخت د دنیا په مخ سترګې وغړولې کله چې رنګیش د پښتنو په خاوره استعماری منګولې لګولې وی.

خدای بښلی باچاخان چې د پښتنو لوی مشر او رهبر و د ۱۹۸۸ م کال د جنوری د میاشتې په شلمه نېټه په پېښور کې وفات او د جلال اباد په ښار کې دده د وصیت سره سم خاورې ته وسپارل شو.

باچاخان د بهرام خان زوی د سیف الله خان لمسی د پښتنو د محمدزو ایا لو د قبیلې څخه و چې د پېښور ښار ته نږدې د هشتنغر کې میشته وو.

باچاخان په ماشوموالي کې د مور پلار نازولی زوی او په مور باندې ډېر ګران و. دی بیخي لږ چې کله به چې خدای نه غوښتل تکلیف ورته پیدا شو نو - جیني به مې وهلې او مور مې ډېره په عذاب کړې وه.

او چې لږ غټ شوم نو کله څنګه چې د ټولو هلکانو عادت وي نو د غلې د کنډو څخه به مې پټه غله وړه او د کلي د هټۍ وال نه به مې د خان لپاره شیان پیری اخستل.

کله به چې مور تنګ کړم نو خدای خو به یې ورته نه وي خو بیا هم غږ به یې را باندې وکړ چې قسم ښه خدای کوي. نو په درشل وخت کې به ما دوه پیسې غلا کړې او دوه پیری دی او په هغه به تېرې وتښتېدم.

باچاخان په ماشوموالي کې لوڅ د خپل کلي شړه نږدې د اسکند وېرې ورو. نو له چیرته ناڅاپه شور لیدلی نه وی او د شیند څخه یې مراو تیتراې نه ورای نو دی په مړو وی.

نو کله د دې پېښې څخه روښته دده مور دی ته په شیند کې د لمبا کولو اجازه نه ورکوله.

پاچاخان د ښوونځی لومړنۍ زده کړه د جنین کلی په لومړنی ښوونځی کی پای ته ورسیده -
او بیا پېښور ته واوړه

پاچاخان د هلکوالی نه غریب پسنده طبیعت درلود او ډیر زیات د خلکو
د خدمت شوق یې وو.

پاچاخان د لیکنو په درس لمونځ لنه کی پیدا او زرلوی ستروی دی چه د لمونځ لیند
پرمختګ په لوری ئی لوی لومړی ګامونه اخستل کله لغو زر زر بدلونو نه
او لوی خبری منځ ته راتلل.

په دغه وخت کی انګریزان د سمندر د غاړی له خوا هند ته راننوتلی وو او
په چل ول کی یی د هند قبضه کول غوښتل.

په 1757 م عیسوی کال کی (د پلاسی جنګ) په نوم د انګریزانو او بنګالیانو
ترمنځ جنګ ونښتو په کوم کی چه بنګالیانو ماتی وخوړه.

که څه هم د انګریزانو لپاره د وخت لومړنی پړاو و خو بیا هم ښه وخت ئی
نه وو ځکه چه په دی وخت کی لوی احمدشاه بابا ژوندی وو او ډیره موده
مخکی ئی په 1761 م عیسوی کال کی د هند مرهټیانو ته سخته ماته ورکړی
وه. د انګریزانو سخته د ډیره اندیښنه وه چه احمدشاه بابا به اوس
دوی د هند څخه وشړی.

خو له دی کبله چی احمدشاه بابا د کورنیو ارتیجو او ربړو سره ارش په ګیروان وو.
او په پنجاب کی سیکانو هم بی امنیتی راجوړ کړی وه او دا د
انګریزانو د فرنشو یالو په ګډ اړیخ چی احمدشاه بابا ئی په دی ښکنځو بنزو

پېرنګيانو په هغه باندې د خپل ښکېلاک ري جبيني اچولو شروع چې وخت د دې پرځای
هم کړې وه چې خپله ژبه باید دې ټکمه کړي هم د ښکېلاک کارې او استعمار ژبې
په لاره کې ټينګه کړي لکه د پوځي او دوکتي ادارو عملي جوړګه او ګنو کړېده
په دې وخت په اوږه کې وې خو وړې لوړ کړېده په ټوله پوليس - سپاهيان
وړانه وپوښړان رو لوړو او اړه ماموريت په هغه پالنو او بنګاليانو کولي.
يعنې دوی په د پېرنګي د دلال رول لوباوه.
انګرېزانو د ځان شره هغه ته چې قانون راوړي وو. د قانون
هغه ته او په ټينده بيا پښتنو ته لوی او ناشنا وو.
انګرېزان پوهېدل چې دوی هغه وران او پښتانه د دوی د راوړو
قانون په حرامتوب کې شم او نه منلو اړ شي. هغه قانون هم د انګرېزانو
تحميل قسم وو او د پښتنو قانون خو پښتونولي وه.
نو انګرېزانو د هغه رو کوښښ کاوه چې پښتانه په کلو او بالېږد کې د
دوی د قبايليانو رو شاده ژمله د مناسباتو تحم عصري ژوند مناسباتو
وړاکشن کړي. او په دې توګه ئې ځان ته اړ او محتاج کړي.
کله چې انګرېزان لږ مضبوط شول نو کوزه پښتونخوا ئې هم په دري
برخو وېشله يوه برخه ئې سرحدي لوی بلوچستان لپاره وټاکله دوهمه برخه ئې
قبايلي سيمې وټاکل او په دريمه برخه ئې سند و بېشتی ضلع لقم ګښېنود.
د دغه دريمه برخه بيا په 1901 م کال کې ځان ته جلا صوبه شوه

او ربړونکي مشغول ساتلي وو . د انګریزانو د شمال لپاره شرایط سخت نه وو .

د 1973 وم عیسوي کال په پای کې د احمدشاه بابا د مرګ وروسته د ارش لوی

افغان خوځښت پاتې نه شو چې د احمدشاه بابا د ژر شتن میراث وساتي .

د کورنۍ جګړو او د سردارانو د بېلو بېلو ډلو او خیانت کولو د افغان

ممالکو قوتونو لومړنۍ ته د ترقۍ په ارش وروکړه چې ځان مضبوط کړي . د

دغو حالاتو په نتیجه کې د پېښور سردارانو ښتنې خیانت وکړ . ګوزاره

پښتونخوا ئې سیکانو ته پرېښوده او په پېښور کلابن ته ونه ننوتېدل

په دې پېښې د سیکانو د وحشت د دورې پېښې په 1848 وم عیسوي کال

د پیرنګي د وحشت دوره په پښتنو باندې شروع شوه .

انګریزان دومره دومره مضبوط او غښتلي شو چې په 1893 وم عیسوي کال کې

ئې په زور افغانستان په دوو برخو وویشه جدا یوه برخه ئې په مستقیمه توګه

او بله برخه ئې په غیر مستقیمه توګه د خپل اختیار د ارش ته ارش اړېږي او

مستعمره وه .

د انګریزانو د استعماري ارش غزوني څخه ښکاري په څو پنځو ی د وچې له لیارې -

یعنې د خیبر - ګومل - بولان او کورم له لیارې استعماري بربادونه کیدل

او د دولوړي هڅه وو چه د دوی له لیارې په دوی باندې استعماري بربادونه

وشو . انګریزانو د ځان ښکره د لوړې مسامه او زوند اقتصادي مناسبات

او وساتل هم راوړي وو . د کومو شره جده وښند خلک او په تیره بیا -

پښتانه هیڅ پرښتانه وو .

( پاتې په بله ګڼه کښې )

## کابل راډیو او د هغې د خپرونو اغیزو ته یوه لنډه کتنه. (۱)

لیکوونکې: پښاجهان

په پښتونخوا کښې د راډیو غږ په هغه وخت کې واوریدل کله چې په ډیرو اسیائي، افریقائي حتیٰ ځینو اروپائي هیوادونو کښې راډیوئي خپرونې چا نه پیژندلې.

ددې حقیقت علت ښکاره خبره ده - چې د امان الله خان هغه هلې ځلې وې - چې غوښتل ئې افغانستان د نړۍ د لوړ پر مختللو هیوادونو په کتاردونو ودروي.

د شلمې پیړۍ په دوهمه لسیزه کې - چې راډیو لا د خپلې ودې په لومړنیو پړاوونو کښې وه - امان الله خان د دغې عصري وسیلې مهم رول ته پوره په ځیر شوی وو.

---

(۱) - د کابل راډیو په هکله تېره موده مخکې ددې مضمون د لیکوال له خوا یوه علمي څیړنه شوې ده.

په دې باره کښې لږ لږ شپیږه معلومات به د پښتونخوا په راتلونکو ګڼو کې - ګرانو لوستونکو ته وړاندې شي. اوس په لنډه توګه د څیړنو ځینې مهم ټکي وړاندې کیږي.

پاچا امان الله خان - په بیره د لته معلوماتو سره د
اولس آشنا کول - د حکومت د اصلاحاتو څخه د خلکو
خبرول او د اولسی ښوونی او روزنی د ترلاسه کولو مهم کار
سرته رسول - د راډیو له لیاری کیدل.

د افغانستان حکومت په 1925 عیسوی کال کښی د المان
د تیلفونکن Telefunken د کمپنۍ د "شرکت" څخه
یو دوه سوه واټه "200.W" ترانسمیټر واخستو او
په کابل کی وه لګولو.

او دا که څه هم هغه وخت حکومت د ډیرو ستونزو او ربړو
سره مخامخ وو. د مثال په توګه د برښنا د لیږدو
نه رسیدو رسیده. د راډیو د تخنیکی فنی کسانو لږ والی
د خلکو غربت چی د راډیو د اخستلو توان یی نه لاره.
او په همدی ډول د دی عصری وسیلی په ضد د افراطی
ملایانو راپاڅیدل. په همدی شان لوری ډیری ستونزی
او ربړی هم وی - خو د دی سره سره حکومت په دی لاس
بری وه موند. چی کابل راډیو په 1925 عیسوی کال
په چرخونو پیل وه کړی. هره ورځ به د کابل د ښار اوسیدونکو
دوه ساعته د کابل راډیو پروګرام اوریده.
خو کله چی په 1929 عیسوی کال کښی بچه سقاو - د
امان الله خان څخه د دولت واګی تر لاسه کړی، نو بیا

د هیواد د لوړو اصلاحي او پرمختللو نکو پروګرامونو د شنډېدلو تر څنګ، د کابل راډیو څپرونې هم ویجاړې شوې او څه ناڅه یولس کاله د افغانستان وګړي د راډیو د څپرونو څخه بې برخې پاتې شو.

د کابل راډیو اوسنۍ دستګاه د 1940 عیسوي کال د اګست د میاشتې په 23 نېټه د پاچا ظاهرشاه د وینا د خپرېدلو سره پرانستل شوه، چې نن سبا نه یوازې په ټول افغانستان بلکه په همدې څېر د نړۍ په لرو ډېرو ګوټونو کې هم اورېدل کېږي.

دا چې کابل راډیو د خپل پرمختګ د کومو پړاوونو څخه تېره شوې ده. نن ورځ د کومو ستونزو سره لاس په ګرېوان ده او دا چې باید کوم بدلونونه پکې راوستل شي. دا لو درې پوښتنې دي چې ځان ته جلا په کار دي چې په بشپړه توګه پرې رڼا واچول شي.

اوس یوازې ځینو مهمو ټکو ته پاملرنه را اړوو.

دا ښکاره خبره ده چې راډیو نن ورځ په ټوله نړۍ کې او په تېره بیا په درېیمه نړۍ کې د پرمختیایي هیوادونو لپاره په پراخه پیمانه د سمدستي معلوماتو په لاس راوړلو لپاره یوه اسانه او ارزانه وسیله ده.

خلکو د افغانستان حکومت ته هم په کار دی چې د دغې وسیلې څخه پوره کار واخلي . په لنډ ډول باید دی چې سرې دغو مهمو ټکو او پوښتنو ته د هیواد مخکښانو او زړه وارو کسانو پاملرنه راواړوي په کومو باندې چې په کار دی هرو مرو پوره غور وشي او ژر تر ژره ئي د حل لیار وه موندل شي

آیا د کابل راډیو د خپرونو څخه افغان اولس ته ګټه رسیږي؟ او که نه نو بیا د کوم هدف لپاره په کار اچول شوي ده .

که چیري سرې د دغو هیوادونو - چې مختلف نامونه یا ملیتونه په ګډه ژوند یکي کوي - د حکومتونو د خپرونو ، اصلاً بحال او د ښوونې او روزنې د پروګرامونو پالیسۍ او سیاست ته پوره په ځیر شي او تر ګېره ځیر ني لاندي ئي ونیسي نو ډیر ژر به ورته دا په ډاګه شي چې د راډیوګانو خپرونې په دغو هیوادونو کښې د ټولو ملیتونو لپاره بیل بیل په کاملو وختونو کښې د دوی په مورنۍ ژبه او په ځانګړې توګه کیږي. د افغانستان په ګاونډي هیوادونو - شوروي اتحاد ایران ، پاکستان ، د چین اولسي جمهوریت او د دې سیمې په نورو شاو خوا هیوادونو لکه هند او سري لنکا او په همدې راز د افریقا د لوئي وچې هیوادونو لکه حبشه ، نایجیریا او

اروپائي هیوادونو لکه سویس او بلجیم کې په هغه ډول
کیږي. یعنې په ټولو دغو هیوادونو کې - چې ځینې ملیتونه
په ګډه سره دوه دوه ګډلو ژوند کوي د دا ډېرو ګامونو څرګندوي په
تمامو ملکو وختونو او خپلو بېل بېل او په ځانګړي د ټولو ملیتونو
په مورنۍ ژبه کې وړاندې کیږي. په دې توګه ټولې د هیواد
بې سواده وګړي هم پوره ګټه اخستلای شي.

نن ورځ د نړۍ په سر هم افغانستان یوازینی هیواد په سترګو
کیږي چې نژاد او سمه لپاره د دا ډیر خپروني په دریو ژبو کې روانې
دي چې مثال یې بل هیڅ چېرې نه شته. او څه دري چې
په پښتو او دري ژبو - یکه شنګه چې ویل کیږي - نیم په نیمه
خپروني کیږي. ډېره عجیبه او د حکایت وړ خبره یې
داده - چې دا خپروني په دریو ډول وړاندې کیږي چې
اوریدونکي نه پوهیږي - چې اوس به پښتو راځي او که دري!
دلته دا پوښتنه را ولاړیږي - چې آیا د کابل راډیو
د خپرونو دغه بڼه او تلتلاره چې په ټوله نړۍ کې یو
ځانګړی مثال دی دا اوس په ګټه ده او که نه؟
له دې څخه ښکاري دې پوښتنو ته ځواب ورکول په کار دي.
آیا د افغانستان د ټولو ملیتونو ډېره کې چې په سلو کې
۹۵ برخه جوړوي او بې سواد دي په دواړو ژبو پوره پوهیږي؟

آیا د پکتیا یو پښتو ژبی لیسواده افغان دردی جوړه دی چی په دری ژبه پوه شی او آیا د پنجشیر یو دری ژبی افغان چی لیسواده وی د راډیو د پښتو خبرونو څخه مطلب اخستلای شی. د افغانستان د لږو کوچنیو ملیتونو لکه هزاره ازبک، ترکمن او نور خو جلا بحث دی. ځکه دردی په ژبو خو هیڅ خبرونه نه کیږی.

د دغو واقعیتونو په رڼا کی نو دا روښانه خبره ده - چی د کابل راډیو خبرونه پیرازی او لیرازی د هغو څه ناڅه 5 په سلو کی سواد لرونکو وګړو لپاره کیږی چی په دواړو ژبو پوهیږی او یا لږ یا ډیر مطلب تری اخستلای شی. پاتی 95 په سلو کی وګړو ته یی هیڅ پاملرنه نه ده شوی. په کار خو دادی چی د راډیو افغانستان آواز د هیواد هغو لیسواده وګړو غوږو ته ورسیږی چی د مرکز څخه لری په غرونو، درو او کلو او بانډو کی ژوند کوی او یوازی د راډیو له لیاری کولای شی چی په هیواد او نړی کی حالاتو څخه خبر شی.

ځکه به لږ دا غوره وی چی د کابل راډیو زمونږ وارکسان په دغه اوسنی بی ګټی او بی اغیزی مینه کی د خپلو خبرونو په سیاست کی ژر تر ژره بدلون راوړی. او په بیلا بیله ټوګه

په پښتو او دري ژبو کښې په ټاکلو وختونو او خپېو خپل پروګرامونه خپاره کړي . او د هیوادوالو د ملیتونو د کشمیر په اندازه دهغوی په مورنۍ ژبو خپرونې وکړې .



""د روند مشر اجمل خټک او د روند مشر خان ال افضل خان""

هر خوا نه چغې دي پښتان جوړوو

یو وارې زمکه بل آسمان جوړوو

راځئ چه او کړو د تړې ټپوس پښتنو

مونږ پښتانان یو که نه خان جوړوو

(اجمل خټک)

خبریال: همایون

# مطبوعاتي کنفرانس

## بن: ۲۱ دسمبر ۱۹۸۷

د پښتنو د لوی ټولنیز اولسولیز لوړون د مشر ډاکټر کبیر-
ستوري وینا.

درنو میرمنو او ښاغلو

د شوروي اتحاد او د افغانستان د ځای پرځای دریدلی شپږ-
کاله جګړه لا دریز ورووسته په مسکو او کابل کښې د ځواک ټولون
راهیسې په سیاسي صحنه کښې حرکت راغلی دی. د دې لپاره کښې نښانې
د ډاکټر نجیب الله د ملي روغې جوړې سیاست دی چه د خلک د -
د ډیموکراتیک ګوند د عمومي منشي په توګه د تیرو کلو ورووسته -
شمیرتي ئې پیل کړی دی. لکه چه تاسې خبر ئې هغه متناومت لوډنلی دلو
ته د اوربند او خبرو بلنه ورکړه.

که په مطبوعاتي هنداره کښې ولیدل شي لږ تر اوسه لپاره د ژورنالستي

سرړاته لیږلنې د اشرافي مخالفینو د لوشره وه او د ډیموکراتیکې
مخالفې ډلې هم و یادې شوې نه دي.

د پښتونولیز لنیز اولسولیز لوري د ډیموکراتیک نوښتونو ډیرې
بې په لوړه دوه ځلې د افغانستان د تاریخ په هکله د خپلو ولیاړو
کابل ته میلمه شوي دي. د خپل و دې یمه پېره په پام کې نیول شوي
په دې میځ کې زمونږ ځو ... ته د لویه جرګه کې د ګډون چارو ملنه را ښکاره شوې
لویه جرګه د افغانانو اولس لوړه عنعنوي غونډه ده د دغې جرګې د پیژندنې
راهتی مهمې بېرې چې د دولت (سټیټ)، د صلاحیت څرګندې وي او کار کوي
او په خپله د دولت (سټیټ) بنسټ هم ټاکلی ده.

د مثال په توګه په ۱۷۴۷ ع کال کې احمد شاه بابا چې د افغانستان
پاچاهي یې جوړه کړه او مرکز یې قندهار و د لوی جرګې له خوا د پاچا په توګه
وټاکل شو. لوی مثالونه یې د څېړنو لوري و په ایمخ کې.

په ۱۹۲۴ کال کې په جلال آباد کې لویه جرګه وه چې د افغانستان لومړی
اساسي قانون یې پاس کړ او هیواد د بشپړه خپلواک د پاچا امان الله
د اصلاحاتي سیاست یې تایید کړ.

بل مثال په ۱۹۶۴ ع کال کې په کابل کې لویه جرګه ده چې د لوی اساسي
قانون مسوده یې ور وسته د یو شمېر تغیراتو څخه تایید کړه.

د لوی جرګې عنعنوي ارزښت له کبله د پښتونولۍ لنیز اولسولیز لوین
د ۱۹۸۱ ع کال د اکتوبر په میاشت کې د شورا په نوښت کې د لوی

جرګې د جوړېدو غونډې ته ګډون وکړ هیله ده چې پر دې لویه جرګه د افغان اولس استازي تر اوسه ډېر خپل حقوق نه دي ترلاسه کړي او هغه حق چې پر هیواد کې ولس ته ورکړل شوي وي.

د شورا د غه نوښت پر هغه وخت کې د ملګرو ملتو د منشي د ځانګړي استازي د چارو ته د خبرو له لارې د جوړجاړي او عامه ډېرو نامتو او مهمو شخصیتونو ته ورکړل شوي و.

خو اوس له خوشحالۍ سره په کابل کې د ۱۹۸۷ ع کال د نومبر د میاشتې د ۲۹ نېټې څخه تر ۳۰ نېټې پورې لویه جرګه جوړه شوه. په دغه لویه جرګه کې د اولس مختلفو قشرونو د دولت مختلفو ارګانونو ۱۴۵۰ تنو استازو برخه اخیستې وه.

د غې لویې جرګې د افغانستان لوی اساسي قانون پاس کړ او په عین حال کې ډاکټر نجیب الله د جمهور رئیس په توګه وټاکه.

په دې توګه ښه د ډېرو ګوندونو د ازادۍ د معنوي پارلمان د جوړولو د ښه د برخې په توګه لیکنه وشوه. زموږ د ټولو ښېګڼو تجویزونو او تجویزونو هم په اساسي قانون کې مراعات شوي دي.

د ځینو ټولو شر سره په ټولنیز سیاسي او اقتصادي ژوند کې د ډېرو قومونو په دولت کې اوسېدونکو قومونو لکه:- پښتانه - ازبک - تاجک - هزاره - ترکمن او بلوڅ ته عادلانه برخه ورکول. د غه اساسي قانون د افغانستان په

په تاریخ کښې د هر بل اساسي قانون څخه مترقي دی خو دی ته انتظار
پکار دی چه په لومړه اندازه شوې دغه اساسي قانون عملي کیږي . څرګند
حدغمي د پاره شرط د ټینګښت شوی سیستم لښتمي اصلاحات دي لیکن د دولت
او د خلک د ډیموکراتیک څخه دغه بیلونه د ترڅو چه لګښت و لاس حق و نوټه هم
لوښانونه چالانښتی وي او رسیږي . همدغه څه چه د اساسي قانون په چوکاټ کښې
راتلونکي د دولتي قانونونه په ډیموکراتیکو بنسټ کښې جوړیږي .

د دولتي، نجیب الله قناعت بخښونکي خبرې کوي، او د دغې جوړې ته تیار دی.
ما ته دا احساس پیدا شوی دی چه دی واقعاً ملي روغه جوړه غواړي.
څو ده په چاپیریال کښې داسې کسان هم شته چه د خپلو امتیازاتو
د لاسه ورکولو څخه ویریږي او د دغې هڅې په مقابل کښې مقاومت ښکاره
کوي . دا د امکان نه لرې نه ده چه د ګورباچوف او د هغه کشور نجیب الله مخالف
کسان ګډ کار سره لري . په دې هکله د ګوري څخه په سترګو اولس نی اوازه
شته دی چه د دولتي، نجیب الله په شان د ملي روغې جوړې د ادامې هیله لري .
داوکاد افغانستان د دیرې ملي الرخ .

د دانو میرمنو او ښاغلو : له څنګه چه تاسې ته معلومه ده د افغانستان
جګړه په دې میخ کښې نړیواله شوې ده د غه د وړه ار خونه لود بل سره
اړیکې لري .

افغان اولسي دستر و قدرتونو څخه دا هیله لري چه د دوی بین الدول د جګړې په ځای
د سولې لپاره په کار واچوي . زمونږ ګوند د ډیموکراسۍ او د افغان

اولس د قاوي عرايقو د ډېرو نمايندګانو په لاره چه د اغوستنه کوي
چه د اولس اراده چه د ټولو خوښي په اساس جوړه شوې ده او د افغانستان
په ټولو اساسي قانون کې ليکل شوې ده عملي شي .

دغه شو له ازادي، خپلواکي، د ډيموکراسي او نا پيلتوب دی -
د افغانستان څخه د ټولو شوروي پوځونو وتنه او د هر ډول بهرني
لاسوهنې (مداخله) بند ونه ده .

ستاسو د غوښتنې البته د دوو څخه خوښنه .

## پوښتنه :

بنا علی د ولسي مشرتوب تاوېل چه زمونږ ځينې وړانديز وېښيپها(ونه)
په اساسي قانون کې مراعات شوي دي - د ځنګوالو په خوا کې د افغانستان
د ډېرو قومونو په هيواد کې مختلفو قومونو ته عادلانه برخه ورکول .
کولی شي چه د اخبره لنډه توګه مشخصه کړي .

**ځواب :** افغانستان د ډېرو مليتونو هيواد دی دغه ټول مليتونه
له غځو وي له وړه ورونه دي کومي او تاوان ئي سره شريک دی . -
لنډه د اچه ديوه لاس لوني دي چه په يوه ورور وي لوي بل به
اغيز ئي ښيانتي کړي . کله چه زمونږ د ورو مليتونو څخه خبره کوو -
لوی ورونه ليږ برابر دي . په کار ده چه هر ورور ته خپل حق په ټولنيز
سياسي او اقتصادي ژوند کې ورکړه شي .
له بده مرغه د پاچاهي په وخت کې زمونږ د لږ شمير ورو مليتونو -

حقوق غصب شوي وو حتی د ځینو ملیتونو په ژبه کښې الفبا هم نشته ده موږ نه یوازې غواړو مطبوعاتي لنغراشن کښې د افغانستان ټولو ملیتونو ته د - عادلانه او برابرو حقوقو د ورکولو غوښتنه کړې وه چې د ۱۹۸۰ وش په اساسي قانون کښې راغلې ده .

**پوښتنه :**

مطلب دې د روزنې او ښوونې سیسټم هم دی ؟

**ځواب :** هو موږ دا غوښتنه هم کړېده چې هر ملت فردي په خپله مورنۍ ژبه د ښوونې او روزنې امکان برابر شي .

دې پوښتنې ته هم په اساسي قانون کښې پاملرنه شوېده خو شمه شتی . عملي لیاره نشي . په راتلونکي کښې هیله ده چې عملي شي ځکه چې په مورنۍ ژبه د ښوونې او روزنې د پاره شرط ښوونکي او کتابونه دي چې دغه کار ته وخت غواړي .

**پوښتنه :**

د شوروي پوځونو د وتلو او هر ډول بهرنۍ مداخلې بشپړی لو غوښتنه کوی ایا د شوروي اتحاد د مداخلې ترڅنګ بله مداخله هم شته دی ؟

**ځواب :** موږ په دې عقیده یو چې شورویان د خپلو پوځونو د موجودیت په اساس د افغانستان په چارو کښې مستقیمه برخه لري او امریکایان د پاکستان د لارې غیر مستقیمه برخه لري مطلب د هر ډول بهرنۍ مداخلې څخه غیر مستقیمه مداخله ده چې چینایان

هم په دې کښې ناکامه شي.

پوښتنه:

تاسو په خپل هیواد کښې د اسلامي بنسټپالو اغیزه څومره احتمال کوئ.

ځواب:

زموږ افغانان مسلمانان دي اسلام زموږ د کلتور یوه برخه ده. اسلام زموږ عقیده ده د اسلام موږ پالنه کوو خو دولت ته پکار دي چه د سیاسي او د عنعنوي اسلام په منځ کښې توپیر وشي.

عنعنوي اسلام پر موږ غښتلی دی خو سیاسي اسلام غښتلی نه دی.

له دې کبله د بنسټپالو اغیزه دومره زیاته نه ده لکه څومره چه په لویدیځ مطبوعاتو کښې ښودل کیږي.

پوښتنه:

له چیرته پاکستان د ثبات په خاطر و اتحاد ونه د سرحد ولې لري. د لوی زړه لاین د برنډ ملح ته واچوي ستاسو خیال په دې کښې څه دی؟

ځواب:

د سرحد ولې د برید د ثبات د خندوالي او نه د پاکستان لوی ادعا لري بلکه لویه لوبه موضوع ده.

محکمه چې دغه دېره د برېټانوي هند په وخت کښې په ۱۸۹۳ کال کښې
د انګلیسانو له خوا د پښتون اولس د ارادې په خلاف راښکودل شوې.
کرښې را هسې پیدا شوې.
تر اوسه پورې پښتون اولس چې ژبنۍ - مذهبي - کلتوري جغرافیائي
او اقتصادي وحدت دی دغه استعماري کرښه منلې نه ده او نه به یې
ومني او نه دغه شان کرښې پښتون اولس په عمل کښې بېلولی شي.

---

«څاپې»

# بلنه

راشئ پښتنو چې پښتونولۍ له سره وکړو
په یوه مرکز راغونډ شو د زړه چوله سره وکړو
وخېږو د راتلو کم کیږي اندیښنې خپلې
پټ پاتې جرګه شو ښه پښتو له سره وکړو
وګډه دښمنۍ کړو په جرګو او مرکو خپلو
پیر بېګړي وښي کړو ولسو له سره وکړو
بیا د پښتنو لوای وروړلوی تر یوه شو راندي
غوړ سمه راکړو پښتنو له سره وکړو
وښیږو غوښتنه د ارزو ګالو شیږي کې بیا
لټول سره پښتانه شو منلو اله سره وکړو
وسپارو تاریخ ته بیا ننګ او د غیرت خال
لټول شو سره پیوست شو منلو اله سره وکړو




که سپوره وی که پوره وی په شریکه به وی

( باچاخان )

Das Brot, ob belegt oder trocken, wird unter allen gemeinsam aufgeteilt (Batscha chan)

Buttered or unbuttered bread will be common (Bacha Khan)

JAHRG./ VOL 2 Nr/No 2

# PASCHTUNCHWA
# PASHTOONKHWA

ORGAN DER SOZIALDEMOKRATISCHEN PARTEI DER PASCHTUNEN

ORGAN OF THE PASHTOONS SOCIAL DEMOCRATIC PARTY

**PSDP**